محب الله زهیر ۲۰۱۰/۱۲/۱۸

# د ( مونږ به څه کوو؟ ) په هکله یو وړاندیز

دهیواد دستر شاعر ښاغلی عبدالباری جهانی د مضمون په لوستلوچی (مونږ به څه کوو؟ ) تر عنوان لاندی یی لیکلی وو او دیوی لویی جرګی د جوړولو له لاری یی روڼ اندو ته د هیواد د موجوده ستونزو دحل لپاره وړاندیزونه کړی وو ، زه هم یو څه فکر کولو ته اړ شوم. په دی برخه کی لومړی دا فکر راته پیدا شو چی زمونږ دا روشنفکران چی ډیری یی د افغانانو ملی وحدت ته په وروستیو کلونو کی زیان رسولی دی او جدی مخالف نظریات دیوبل په وړاندی لری ، آیا دا به څنګه او په څه ډول په یو تغر راټول شی او د یو هدف لپاره به کار او مبارزه وکړی ؟ دا مسئله د اندیښنی وړ ده لکه څنګه چی جناب جهانی صاحب هم د همدی اندیښنی له امله یو څه شرایط وړاندی کړیدی .

ښایی داسی اختلافات چی زیاتره روشنفکران پکی ښکیل دی ډول ډول عوامل ولری ولی هغه څه چی زه یی غواړم دلته بیان کړم ښایی د دی عواملو څخه یو ستر او ښکارنده عامل وی .
لږ تر لږه د ۱۳۷۱ کال راهیسی چی د مجاهدینو حکومت رامنځ ته شو په هیواد کی په قومی بنیادونو پوځی او سیاسی جوړښتونه رامنځته شول چی وروسته یی وده وکړه او زمونږ ډیری روشنفکران هم د مختلفو لاملونو له مخی د دی جوړښتونو ملاتړی شول. ( اقتصادی ، سیاسی ، قومی ، ژبنی ، سمتی او داسی نور عوامل د دی ملګرتیا سبب شول ) همدا راز په دی لوبه کی هغه چا چی ګټه کړیده هغه د جهادی تنظیمونو مشران او قوماندانان دی چی د یوی ډلی یا قوم یوشمیر خلک یی پر ځان راټول کړیدی او هیڅوک اوس دا جرئت نلری چی دا جنایتکاران دقانون منګلوته وسپاری . د دی لپاره چی خپل نظر په ښه توګه درنو لوستونکوته وړاندی کړای شم د مقدمی په توګه د لاندی مسایلو یادول ضروری ګڼم :

وګوری د تنظیمی جګړو په جریان کی اکثر جنګونو قومی بڼه غوره کړه او دردونکی جنایتونه د دی تنظیمونو له خوا تر سره شول . د دی جنایتونو مسئولیت د دی تنظیمونو مشر تابه ته راجع کیږی او هغوی هم په دی خبره پوه دی خو ځانونه یی کلک به خپلو قومی کړیو کی خوندی کړیدی . اوس دغه جنایتکار افراد دخپلی ډلی یا قوم او او د خپل قوم د تعلیم یافته او په اصطلاح روشنفکرانو له خوا هم حمایه کیږی . دیو قوم هیرو او قهرمان دبل قوم لپاره هیواد ته خاین او جنایت کار بلل کیږی او همدا راز د مقابل لوری اتل او هیرو د بل قوم په وړاندی د جنایتونو د تر سره کیدو له امله جنایتکار ګڼل کیږی او اتلولی یی متنازعه بڼه غوره کوی . اوس دا مسئله تر دی بریده رسیدلی چی که څوک د یو تنظیمی مشر یا قواندان په هکله د هغوی د پیروانو یا هم د هغه قوم د ځینو کسانو، ولو که تعلیم یافته هم وی د دوی د جنایت کاریو خبری وکړی ،نو فوری د عکس العملسره مخامخ کیږی .

زه په یوه دولتی اداره کی کارکوم چی یو شمیر جهادیان هم زمونږ سره شتون لری. د پښتون په حیث دخپل تاجک یا هزاره همکار سره هیڅ ستونزه نلرم خو که چیری د احمد شاه مسعود نوم سپک یاد کړم او یا د دوستم ، محقق یا خلیلی او یا دسیاف د جنایاتو په هکله څه ووایم نو بیا سمه دښمنی جوړه ده چی په دی توګه یوازی همدا جنایتکاران د اختلاف عاملین ګڼل کیدای شی چی دا خبره یوازی استثنا نه بلکه عامه ګڼل کیږی .

زما وړاندیز دا دی چی که چیری دا خوځښت بریالی کیږی نو لومړی شرط باید دا کیښودل شی چی هر ګډونوال باید لومړی د دی جنایتکارانون مینه او د هغوی څخه ملاتړ له زړه نه وباسی او چی کله په دی خبره توافق وشی چی دهر قوم جنایتکار باید په ډله ایزه توګه وغندل شی نو ټول بیا سره ورونه کیږو او نور څه ستونزه نه پاتی کیږی.

البته په دی برخه کی باید ډیر وړاندی ولاړ بلکی کافی ده چی دتیرو دیرش کلونو په پیښو پوری محدود پاتی شو چی فکر کوم دی مسئلی ته پام اړول به هم زمونږ د وحدت په ټینګښت کی رول ولوبولای شی .

پایان


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ